مورچل

لسم کال نهمه، پرلپسې ۹۷ یمه گڼه،
ذی الحجة ۱۴۳۷هـ ق، سپتمبر ۲۰۱۶م

د أمیر المؤمنین شیخ القرآن والحدیث
هبة الله اخندزاده (حفظه الله)

مؤمنانه فراست!

ملگرو ملتونو سر مشریزه

او د اسلامي امت دردونه!

د هارون الرشید په نوم

د حضرت سفیان ثوری «رحمه الله» لیکه

وحدت ملی

یا شرکت سهامی؟

ششم میزان

روز نجات کشور

فیس بوک

د اسرائیلو په لومو کې

طالبان

کامیاب دي که ناکام؟

مورچل

لسم کال نهمه، پرلپسې ۹۷ یـمه ګڼه، ذي الحجة ۱۴۳۷هق سپتمبر ۲۰۱۶م

لړلیک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	طالبان کامیاب دي که ناکام؟.....	۳
۳	وحدت ملی یا شرکت سهامی ؟.....	۶
۴	فیسبوک د اسرائیلو په لومو کې.....	۸
۵	ششم میزان روز نجات کشور.....	۱۱
۶	د اسلام غزوات او سرایا.....	۱۴
۷	د جهاد فقهي مسائل.....	۱۷
۸	هغه څوک چې امام شافعي رحمه الله سره یې حسد کاوه!	۱۹
۹	د هارون الرشید په نوم د حضرت سفیان ثوري رحمه الله..	۲۱
۱۰	په لمانځه کې څرنګه خشوع ترلاسه کولای شئ؟.....	۲۲
۱۱	جنګي جنایتونه (سپتمبر).....	۲۷
۱۲	د مورچل وږمې.....	۳۰
۱۳	د سپتمبر د میاشتې خبرونه.....	۳۳
۱۴	میاشتنی غورچاڼ.....	۱۰۸

علمي، سیاسي او جهادي میاشتینی خپرونه

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حـــسن خېل | ایـــوب صـــافی
حـــسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مـــسافر | حافـظ سعـــید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

دشیخ القرآن والحدیث هبة اللّه اخندزاده (حفظه اللّه)

مؤمنانه فراست!

دافغانستان داسلامي امارت ددرانده زعیم محترم امیرالمؤمنین (شیخ القرآن والحدیث هبة الله اخندازاده حفظه الله) دبیعت په لومړیوشیبوکې به ځینو غرب پلوو رسنیو اوپلورل شویو قلموالو ویل :

چې نوموړی نه کومه جنګي تجربه لري او نه محاربوي بصیرت ! ددوئ په آند دا یوازې دقضایي تجربو نه برخوردار دی ، له امله به یې نبایې مجاهدین ددې نه پس کوم دپام وړ پرمختګ ونکړاي شي او شاید ډیر ژر دفتحو قافلې درکوداو جمود په موړ ودریږي او.....او.....

خو چې کله دعمري عملیاتودبارودو لوخړو دکابل چارواکي وارخطا کړل اونوریې رسنیو هم ورته توجیه نشوای کولای، نودخپلو غولونکیو ادعاوو دپټولو لپاره یې دخپل عادت سره سم په اوتو بوتو پیل وکړ،کله دا چې طالبان دنورو په اشارو عملیاتي پالیسي جوړوي ،کله وایې چې دوئ وطن ورانوي اوکله نورنادرسته الزام تراشي کوي ،پداسې حال کې چې دکابل دواک په ګدی ناست واکمن ،همدا اوس هم دلویدیځووینه ځبنونکیو حکومتونوپه مستقیمه قومانده او لارښوونه دافغان ولس او اسلامي خاورې پرضد دسایس جوړوي اودهغوئ په نغوتودخپل ملت سره په جګړه بوخت دي .

داسلامي امارت دنوي زعامت دمؤمنانه فراست ،دپوځي او سیاسي بصیرت کفر سوزونکیو شعاعواودایمان نوراني وړانګو،دعمري بریدونونظامي جغرافیه، دهیواد کونج کونج ته وغځوله اونن یې له برکته دکندزاو هلمند په شان دهیواد دشمال ،سویل اوختیځ نور ستراتیژیک ولایتونه هم تربشپړ نظامي پوښښ لاندې راوستي اوکه بهرني باداران یې ورسره هوایي اوځمکنی کمک ونکړي، شوني ده چې په ډیر لنډ وخت کې به یې دظلم اوغلامۍ کاسه چپه شي اودماتي له بارز برخلیک سره به مخامخ شي .

دنړیوال ښکیلاک پرضد روان جهادي بریدونه، دا په اثبات رسوي، چې داسلامي امارت زعیم پرعلمي او سیاسي وړتیا سربیره جهادي او پوځي صلاحیتونه هم لري او دیوه مدبرمدیر او

هوښتیارمشر په توګه دده ټاکنه داسلامي امارت دمشرتابه شوری پر ځای او وخت انتخاب دی ،هغه څه چې دیوه شرعي امیر لپاره اړین وي، هغه پکې عملاًشتون لري ،علم ،تقوی ،جرأت ،سیاسي بصیرت او بدني قوت ټول هغه ترجیحات دي، چې اسلامي شریعت یې دیوچا د مشرۍ لپاره دترجیحي بنسټونو په بنه مني او پدې صفاتو موصوف شخص ته ددې حق ورکوي، چې دمسلمانانو امامت کبری وکړي .

داچې اسلامي امارت کې دشخصیت پالنې پر ځای اسلامي اصول ،دیني او ملي ارزښتونه دکوم مسؤلیت یا دچا دمشرتابه لپاره مسلم معیارونه دي او دهمدې اقدارو په رڼا کې دزعامت پریکړه داهل الحل والعقدشوری ته محول کوي، دکره معلوماتوپه اساس دشیخ صیب دزعامت ټاکنه هم دې نورمونو ته په کتوشوي ،نو په ځغرده ویلای شو،چې نوموړی دیوه شرعي امیر په حیث له هرډول ممکن صلاحیت نه بهرمند دی .

تردې مخکې شهید امیرالمؤمنین (ملااختر محمد منصور رحمه الله) پر ضد هم نړیوالې میډیا زهرجن تبلیغات وکړل، کله به یې دده پرخلاف د مخالفت کم شمیرې ډلګۍ ته دیوه موازې امارت تشکل ورکاوه او کله به یې ورته داسې مواردو کې موضعګیرې وکړه، چې هغه به د(عنکبوت) دځالې غوندې بې مقاومته او بې ځواکه وو،خوچې کله دهغه صالح خلف یا ځای ناستی وټاکل شو،نو بیا یې پر خلاف دپروپاګندلهجه بدله کړه اودخپلو زهرجنو تبلیغاتو ماشین یې ورته داسې عیار کړ،ترڅو داخل طالبان او مشران یې دکاري صلاحیتونونه عاري کړي اودجګړې په میدان کې دمورال لویدلواو ماتي خوړلوعسکرو جنګي ماشین ته نوې روحیه ورکړي .

نړیوالوته داسلامي امارت دواک کلونه بنه په یاد دي، همدوئ(طالبان) وو، چې دسیاست ،فرهنګ ،محاربې اوټولنیزوچارو په ډګرونو کې لاسته راوړنې له چاپټې ندې اونه یې آن دغرب په شان مغرضونظامونوکومه داسې نقیصه په ګوته کړي، چې هغه دې کوم ډول اصولیت او معنویت ولري، بلکې داسلامي امارت هیوادني او اسلامي خدمات او کاري صلاحیتونه له هیچانه پټ ندي او نه به څوک پرې سترګې پټې کړای شي .

مونږ پداسې حال کې چې داشغالګرو پرضدداسلامي امارت تر قیادت لاندې جهاداو مبارزه ددې امارت دمشرتابه دمؤمنانه فراست ، جنګي او سیاسي نبوغ پایله بولو، په ځغرده دداسې غرب مشربه خلکوالزامات غندو او ورته یادوو، چې زمونږ مشران زمونږ دعقایدو،آرمانونواوغوښتنو بشپړونکې دي، له الله تعالی نه امید لرو، چې زمونږ دآرمانونو په رڼا کې به یو داسې حکومت جوړکړي، چې ټول اصول اومنل شوي بنیادي ارزښتونه به یې مد نظر نیول شوي وي !

طالبان کامیاب دي که ناکام؟

قاري سعيد

په يوه امريکا پلوي ويب پانه کې مې مطلب ولید، چې عنوان يې و(طالبه په والله قسم چې ناکام يې) مقاله مې را خلاصه کړه او په دې نيت مې ولوسته ،تر څو د افغانستان د اوسني جهادي خوځښت طالبانو د ناکامۍ د علتونو او څرنګوالي په باره کې د مقالې د ليکوال په دلائلو ځان پوه کړم.

مقاله مې را ولوسته خو د بريالیتوب او ناکامۍ په باره کې دليکوال نظر او په ليکنه کې راوړي دلائل يې راته ډير کمزوري او بې ځايه ښکاره شول. ليکوال په خپل زعم ليکلي وو، چې د افغانستان نيمايي نفوس ښځې دي او ښځې طالبان نه غواړي ،ځکه هغوی ښځو ته حقوق نه ورکوي. دغه راز د ليکوال په باور د افغانستان په پاتې نيمايي نارينه وو کې نيم کوچنيان يا بوډاګان دي ،چې په وضعيت اغيز نلري او نيم نور يې ډير د طالبانو مخالف او لږ ورسره جوړ دي، چې په دې حساب د ليکوال د خندونکې تحليل په اساس د افغانستان يوازې ۱۲ فيصده خلک د طالبانو ملاتړي دي او ۸۸ فيصده يې مخالف دي، نو له همدې ځايه ليکوال قسم اخيستی چې طالبان نه شي بريالي کيدلی.

بله دا چې د طالبانو شمير او امکانات ډير لږ دي . په مقابل کې يې د دنيا څو ملياردہ کافران دي، چې اتومي قوت لري، توغندي او وسلې لري، دا مريکا د يوې کمپنۍ ګوګل يا مايکروسافټ کلنۍ عائد د طالبانو له ټول اقتصاد څخه په مراتبو زيات دی، نو په دغسې حالت کې به طالبان څرنګه بريالي شي؟؟

د يادې ليکنې د ساده ګړي ليکوال د ظاهر بيني ليکنې په ځواب کې په فکر کې راتېر شول، چې يوه ليکنه وليکم، تر څو همدغه ليکوال او دغسې نورو ناخبرو او خوبوړو اوبووړو ته د بريالیتوب فلسفه تشريح کړم. ځکه نن سبا د دنيا ظاهري کش او فش دومره زيات شوی او د مادیت تبليغاتو داسې زور نيولی، چې انسانان يې له حقيقي هستۍ معنويت څخه غافل کړي دي.د نن سبا زياتره انسانان د بريا او ناکامۍ د معنی ګانو په څير هرڅه د مادیت او ظاهري دنيوي تعريفونو له عينکو ګوري، نو ځکه د مهمو پديدو په معنی او مفهوم کې تيروځي.

بريا كاميابي ته وايي،يا خپل منزل مقصود ته رسيدل چې په عربي کې ورته فوز يا فلاح وايي. کاميابي په دنيا کې د استعمال بيلابيل موارد لري،چې زياتره يې نسبي دي يعني د يوه محدود کار او مجال په دائره کې کاميابي. لکه په صنف کې کاميابي،په علم کې کاميابي، په ورځنۍ دنده او روزمره کار کې کاميابي، په کورني ژوند کې کاميابي، په انتخاباتو کې کاميابي، په جګړه کې کاميابي يا داسې نورې نسبي کاميابۍ چې په ورځني ژوند کې را مخته کيږي.

اما کله چې کاميابي مطلقه ذکر کوو. نو مراد مو ترښه حقيقي او په الهي امتحان کې کاميابي وي.دا هغه کاميابي ده چې څوک د خپل ژوند په سفر کې يعني له ولادت او مکلفيت له مرحلې څخه د مرګ تر وخت پورې زندګي په داسې ډول تيره کړي چې په پای کې د الله تعالی حضور ته په داسې حال کې ورشي چې د ژوند په آزموينه کې بريالی راوتلی وي، د بندګۍ او مکلفيت ابتلاء يې په ښه توګه انجام کړې وي، د الله تعالی د اوامرو امتثال او له نواهيو څخه يې پرهيز کړی وي.دا کس نو واقعي کامياب او فائز دی او دا هماغه کس دی چې د قيامت په ورځ د الله تعالی په حضور کې کله چې د انسانانو د ژوند د امتحان نتائج اعلانيږي. دده لپاره به د خوښۍ او سربلندۍ ورځ وي که څه هم په دنيا کې مغلوب، مقهور او په ډير مصيبت ځپلي حالت کې اوسيدلی وي.

نو د واقعي کاميابۍ د ارزولو لپاره معيار دادی چې يو څوک د قرآن د غوښتنو او اسلامي شريعت په محک باندې وارزول شي چې آيا موقف او کردار يې په شريعت برابر دی او کنه؟ که يې موقف او کردار له شريعت سره برابر و بيا که ددنيا تر ټولو کمزوری، تر ټولو ځپل شوی او په ظاهري لحاظ که تر ټولو مغلوب څوک هم وي کامياب دی. بريالی دی او عاقبت يې د فوز او فلاح دی.

راځئ يو څو مثالونو ته غور وکړو. حضرت انس رضی الله عنه روايت کوي چې نبی عليه السلام ته د يوې قبيلې خلک راغلل چې له مورِ سره صحابه کرام واستوه ،چې مورِ ته دين راوښيي. نبی عليه السلام ورسره اويا تنه صحابه کرام واستول چې د حضرت انس ماما حرام بن ملحان رضی الله عنه هم پکې و. ددغې قبيلې خلکو غدر وکړ او دغه صحابه کرام چې د قران کريم قاريان وو، په يو ځای کې يې محاصره کړل او بيا يې ټول په شهادت ورسول. په دوی کې حضرت حرام بن ملحان رضی الله عنه چې کله يوه کافر د شا لخوا په نيزه وواهه او د مخ خواته ترې نيزه ووته نو له شهادت وړاندې نوموړي يوازې د الفاظ په خوله راوړل(فزت و رب الکعبة) د کعبې په رب قسم چې کامياب شوم.

څرنګه چې شهيد ته د شهادت په مهال جنت ښودل کيږي نو دغه صحابي شايد د جنت په ليدو دغه الفاظ ويلي وي.خو مطلب دا چې دغه مظلوم صحابي له ټول مظلوميت سره سره ځان بريالی وباله او په دې يې قسم هم واخيست.

اوس که ددغو صحابه کرامو ماموریت ته د دنیوي ظاهري نظر له زاویې وګورو نو دوی خو په ظاهري نظر مغلوب په نظر راځي. ځکه دوی د دعوت لپاره لیږل شوي وو خو مخکې له دې چې څوک اسلام ته دعوت کړي ټول شهیدان شول. اما که معنوي اړخ ته یې وګورو دوی ټول کامیاب دي. ځکه دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم امر په ځای کړ، د قران د خدمت په لاره کې ظلما او غدرا ووژل شول، نو په دې دنیا کې اګر که مغلوب او مظلوم معلومیږي مګر د الله تعالی په نزد بریالي او کامیاب دي نو ځکه دغه صحابي هم په قسم سره دخپلې کامیابۍ خبره کوي.

بل مثال: نن سبا مورِ د محرم الحرام په میاشت او د عاشوراء په ورځو کې قرار لرو. د عاشوراء ورځ مورِ ته د کربلاء پیښه او د حضرت حسین رضی الله عنه تاریخي کارنامه رایادوي چې د ټول امت لپاره د یوه تاریخي سبق حیثیت لري.

حضرت حسین رضی الله عنه له محدود شمیر اهل بیتو سره د خپل وخت د جابر او نا اهله حاکم یزید د بالادستۍ او ظلم په مقابل کې ودرېد او د کربلاء په میدان کې له خپلو ټولو ۷۲ ملګرو سره په شهادت ورسېد.اسلامي تاریخ او مسلمانان چې د کربلاء د جګړې په اړه پریکړه کوي نو داسې نه وایي چې حضرت حسین رضی الله عنه شکست وخوړ. بلکې امت په دې متفق دی چې هغه بریالی شو. ځکه هغه امت ته یو تاریخ پریښودچې د جابرانه ملوکیت او زبردستۍ په مقابل کې باید مسلمان سرټیټی ونه اوسي. هغه که ظاهرا قتل شو مګر په واقع کې کامیاب او برحق شهید دی.

نو د طالبانو یا د افغانستان د اسلامي امارت د مجاهدینو د اوسني جهاد په اړه هم که پریکړه کوو.لومړی خو که د جهاد وروستیو بریاوو، د مجاهدینو اخلاص، افرادي قوت او اتحاد، د اولس ملاتړ اوپه اتیا فیصده خاوره باندې حاکمیت ته که وګورو او بالمقابل ددښمن اختلاف او تزلزل ته نظر کوو الله تعالی ته امید شته چې د روانې جګړې نهایي بریا د مجاهدینو ده او کفر به د پخوا په شان مختوری او مغلوب تښتي.

او که خدای نخواسته د طالبانو په لاس د موجوده کفري لښکرو مخامخ شکست مقدر نه وي دا چې مجاهدین په حقه لاره روان دي. موقف او دریځ یې اسلامي دی، په دې عصر الفتن کې یې تر ټولو سخت عبادت جهاد ته ملاتړلې او د شهادت او فتحې په امید جنګیږي یوازې همدا موقف یې هم د بریا موقف دی ځکه چې د الله تعالی امر یې په ځای کړی او د شیطان په دام کې نه دي لویدلي.

نو مسلمانان باید د کامیابۍ او ناکامۍ په حقیقي فلسفه سم سرخلاص کړي او بیا قضاوت وکړي.

و ما علینا الا البلاغ

وحدت ملی یا شرکت سهامی؟

ابوصهیب حقانی

اشرف غنی در ابتدای کارزارهای انتخاباتی اش همیشه یک جمله را زیاد تکرار می کرد اینکه حکومتی که صاحبش شود هرگز به شرکت سهامی تبدیل نخواهد شد که هر کسی در آن صاحب سهم مشخص بوده و کارها بر خلاف اولویت یک نظام ایده آل به پیش برود؛ اما بعدا که با داکتر عبدالله بعد از جنجال های زرگری انتخابات نمایشی (سال ۱۳۹۳ هش) به دستور و وساطت مستقیم امریکا و مقامات ارشد آن کشور من جمله جان کیری به توافق به اصطلاح سیاسی مبنی بر تشکیل حکومت وحدت ملی تن داد؛ آن حکومت نه تنها شرکت سهامی نشد بلکه با اشتراک متناقض دو فرد متخاصم تبدیل به یک شرکت سهامی جنجالی شد که حجم معاملات پشت پرده را الله بهتر می داند که این دو شخص تا کجا و چگونه به تجارت وزارت خانه ها، ریاست ها، سفارت ها و ولایت ها پرداختند.

در تازه ترین مورد اما، تلویزیون یک به شواهدی دست یافته که نشان از اوج معامله گری اشرف غنی و عبدالله بر سر تقسیم قدرت دارد و اینکه حکومت نام نهاد وحدت ملی مصداق واقعی شرکت سهامی بوده و این گفته یک اتهام محض نیست بلکه یک حقیقت انکار ناپذیر است؛ و همه چیز همانطور که حدس زده می شود نصف نصف و پنجاه پنجاه بین دو شریک قدرت و پاپین تر از آنها بین سایر افراد معامله گر و سود جو عملی شده و هر کسی به سهم مورد نیاز خود از این شرکت سهامی دست یافته است؛ اما جالب اینجاست که داکتر عبدالله با وجود آنکه در انتخابات نمایشی (سال ۹۳) شکست خورده به حساب می آمد و به زور امریکا و جیغ و فریادهای خود بر سر اشرف غنی تحمیل شد و اشرف حضور او را اکراها و از سر جبر، به عنوان یک شریک صاحب اختیار قبول کرد (با آنکه) ظاهرا به سهم خود نیز رسیده ولی باز هم ادعای کم لطفی و بی توجهی از سوی اشرف را کرده و طوری وانمود می کند که گویا اشرف غنی حق او را خورده و چیزی به وی نداده است در حالیکه حقیقت و شواهد نشان می دهند که هم اشرف غنی و هم عبدالله اجازه هیچگونه مداخله در امر و فیصله مقطوع امریکایی ها درباره امتیازات شان نداشته و همه وزارت ها و ریاست ها و سایر نهادهای حکومتی (۵۰/۵۰) با حضور و رضایت قلبی هر دو شریک قدرت میان شان تقسیم

گردیده و امریکا هر دوی شان را راضی و خشنود کرده است.

طبق شواهد به دست آمده همینطور سر و صداهای گاه و بیگاه (معاون اشرف غنی) جنرال دوستم نیز بیجا بوده چونکه در شرکت سهامی به وی نیز حق و امتیاز لازم داده شده و رضایت او را حاصل کرده اند؛ اما ظاهرا همه اراکین فاسد وحدت ملی و دست نشانده های امریکا به حق شان کمتر از یک رئیس جمهور قناعت نداشته و همه شان همزمان انتظار دارند نفر اول حکومت وحدت ملی باشند و نه فرد پائین رتبه در شرکت سهامی.

خلاصه تقسیم قدرت در شرکت سهامی به روایت تلویزیون یک به شرح ذیل است:

وزارت ها؛ سهم غنی ۱۳ وزارت / سهم عبدالله ۱۲ وزارت

ولایت ها؛ سهم غنی ۱۵ ولایت / سهم عبدالله ۱۳ ولایت

سفارت ها؛ سهم غنی ۱۳ سفارت / سهم عبدالله ۵ سفارت

ریاست های مستقل؛ سهم غنی ٦ ریاست / سهم عبدالله ۰

پس از تقسیمات کلی فوق، باز هر کدام از اشرف غنی و عبدالله در وسط خودشان شریکان قدرت یا سهام داران تجاری دارند که وزارت ها، ولایت ها، سفارت ها، ریاست ها و سایر نهادهای حکومتی را طبق جایگاه و مرتبه آنها در نزد اشرف و عبدالله، مالک می شوند؛ مثلا:

از جنرال دوستم، کریم خلیلی، سروردانش، پیر سید احمد گیلانی، سید منصور نادری، حنیف اتمر، سلام رحیمی، معصوم ستانکزی، نادر نادری، اکلیل حکیمی، حاجی دین محمد، علی احمد جلالی، حکمت خلیل کرزی و اکرم خپلواک، به عنوان شرکای قدرت اشرف غنی؛ و از عبدالهادی ارغندیوال، محمد محقق، انجنیر محمد خان، عطا محمد نور، صلاح الدین ربانی، ادیب فهیم، گل آغا شیرزی، زلمی رسول و امان الله گذر شرکای عبدالله در شرکت سهامی وحدت ملی نام برده می شوند.

و اینگونه است که فساد در این اداره به اوج خود رسیده و نارضایتی ها و شکایت بازی ها گسترش و سر و صدا ها و آواز های ناخشنودی روز به روز بلندتر می شوند.

به امید ذلت امریکا و عزت مومنین.

فیس بوک د اسرائیلو په لومو کې

حسن زوی

دټولنیزو اړیکو مشهوره ویب پاڼه فیس بوک هم د اسرائیلو دلاس آله وګرځېده او له دې وروسته به د ټولو هغوفلسطیني ځوانانو ادرسونه اسرائیلي دولت ته ورکوي چې دمظلوموفلسطینیانو پرضد د اسرائیلو دروانو دظلمونو نه نړۍ خبروي.

اوس دفیس بوک له لورې اسرائیلو ته دورکړل شوو معلوماتوله مخې اسرائیلي امنیتي اداړې هغه ټول فلسطیني سړي او مېرمنې نېسي چې د اسرائیلو دظلمونو په اړه يې معلومات خپاره کړي او نړۍ يې تر خبره کړي وي چې پدې لړ کې په همدې تازه ورځو کې ۱۸۵ نر او ښځینه ځوانان نیول شوي او اسرئیلي زندانونو ته وړل شویدي.

دفلسطین د اطلاعاتو مرکزي اداړې ویلي دي چې اسرائیلي فوځیان او نورې امنیتي اداړې د ټولو هغو فلسطیني ځوانانو دنیولو لپاره پلان جوړوي چې فیس بوک کاروي.

((یعووت اهرونوت)) نومې اسرائیلي جریدې لیکلي دي چې د اسرائیلو دفوځ یوه ځانګه دټولنیزو اړیکوټولې ویب پاڼې په ټولیزه توګه او فیس بوک په ځانګړي ډول له نېږدې څاري او د اسرائیلو دټولو مخالفو ځوانانو ادرسونه په نښه کوي اوبیا داسې ځوانان نیسي اوزندانونوته يې وړي .

دفلسطین د اطلاعاتو وزارت وایي چې د اسرائیلي دولت له لورې دزندانونو دمسئولینو په نوم په یو تازه جاړې شوي فرمان کې راغلي

دي چې يو فلسطيني ځوان دې هم ترهغې له زندان نه، نه پرېښودل کېږي ترڅو چې ترې دفيس بوک دنه کارولو قسم خط نه وي اخستل شوی.

دمشهورې برتانوی جريدې ګارډين سره په مرکه کې اسرائيلي وزير ګيلاد ايردان منلی ده چې امريکاته دتللي اسرائيلي دولتي پلاوي او فيس بوک اداري ترمنځ دکاميابو مذاکراتو په نتيجه کې ددې اداري يو پلاوی اسرائيلو ته راروان دی ترڅو داسرائيلو اوددې پلاوي ترمنځ دلته داترون رامنځته شي چې فيس بوک به ټول داسرائيلو ضد فلسطينيانو ادرسونه بندوي.

هارټز نومې اسرائيلي جريدې منلې ده چې فيس بوک دترون درامنځته کېدو دمخه لا اسرائيلو ته ټول هغه ځوانان ورپه ګوته کوي چې داسرائيلو ضد مواد خپروي ؛ پدې کار سره اسرائيلو ته دهغو ټولو فلسطينيانو نيول او زندانونو ته بوتلل اسان شويدي کوم چې دفيس بوک له لارې داسرائيلو دظلمونو نه نړيوال خبروي.

يروشلم پوسټ نومي داسرائيلو يوې جريدې کې عامربين ربی نومې يو يهودي ځوان اعتراف کړيدی چې ددې کال په پيل کې داسرائيلو ددولت او فيس بوک اداري ترمنځ يو پټ ترون شوی و؛پدې ترون کې دفيس بوک اداري منلې ده چې دفيس بوک له لارې داسرائيلو پرضد کرکه خپرېږي او فلسطينيان پدې بريالي شويدي چې اسرائيل نړۍ ته يو قاتل او غاصب هېواد معرفي کړي نو ځکه پدې اتفاق رامنځته شو چې داسرائيلو شتون ته دخطرونو رامنځته کونکو ټولو فلسطينيانو ادرسونه بايد بند کړی شي.

نامتو فلسطيني جورنالست اعصام الحق وايې چې فلسطيني ځوانان خو يواځې دخپل ټاټوبي په اړه تبصرې ديوبل سره شريکوي او دهماغه ظلمونو عکسونه او ويډيوګانې فيس بک ته پورته کوي کوم ظلمونه چې اسرائيلي عسکر کړي وي.

که دا ظلمونه دومره ستر وي چې پرې داسرائيلو شتون ته خطرونه راپيدا کېږي نو بايد چې اسرائيل دا ستر ظلمونه بند کړي؛فلسطيني ځوانان به خپل کار روان ساتي؛ افسوس دفيس بوک اداري پرحال چې خپله بې طرفي يې ونه ساتلای او داسرائيلو په طرفداری يې ځان داسرائيلو په ټولو ظلمونو او وحشتونو کې ځانونه شريک کړل.

دفلسطين داطلاعاتو دمرکزي اداري له لورې په خپورشوي تازه راپور کې راغلي دي چې داسرائيلو دامنيتي اداروغړي زندانونو ته ورځي او په قتل اود قتل اقدام کې له تورنو تنانو پرته ټولو فلسطيني زندانيانو ته وايې



چې تر هغې به نه پرېښودل کېږي ترڅو يې په قسم خط کې نه وي منلې چې له دې وروسته به فيس بک نه کاروي.

((فلسطين سټدي سنټر))نومې مرکز نه په خپور شوي يو تازه راپور کې راغلي دي چې په يوې اوونۍ کې دزرو نه دزياتو فلسطيني ځوانانو نه په اسرائيلي زندانانو کې دفيس بوک دنه کارولو قسم ليکونه اخستل شوي او له زندانانو خوشي شويدي او کومو فلسطيني ځوانانو چې دقسم ليکونو له ورکولو انکار کړی هغوئ ښېرته توقيف خانو ته استول شويدي.

القدس نومې عربي جريدې په خپل يو تازه راپور کې ليکلي دي چې دفيس بوک اداره هم دفلسطينيانو پرضد داسرائيلو ددولت سره يوځای شويده او دازاد فلسطيني دولت د دوه سوه زرو نه زياتو طرفدارانو ادرسونه يې بند کړيدي.

دامريکا مشهورې جريدې سان فرانسکو کرونيکا کې راغلي دي چې داسرائيلو جاسوسې شبکې شن بيت له لورې په يو پټ راپور کې راغلي دي چې که داسرائيلو پرضد دفلسطينيانو دفيس بوک دکارولو مخنيوی ونه شي نو په ټولې نړۍ کې عموماًاو په ځانګړې ډول اروپا کې به دازاد فلسطيني دولت دجوړيدو طرفداران زيات او اسرائيل به لا ډېر بدنام شي.

پدې اړه داسرائيلو لومړي وزير بن يامين نتن ياهو دخپلې کابينې سره دمجلس نه پس ددولت دوه وزيران امريکا ته واستول چې هورې يې په مينلوپارک کې دفيس بوک مرکزي دفتر کې ددې اداړې له مشرانو سره خصوصي ناسته وکړه ؛ددې اداړې نه يې دټولو فلسطينيي مسلمانانو دادرسونو دبندولو غوښتنه وکړه؛دفيس بوک اداړې ددوئ دا غوښتنه ومنله او ورته يې دهر ډول مرستې وعده ورکړه .

دياډولو وړ ده چې دفيس بوک باني مارک زوخر برګ يهودي دی او داسرائيلو سره يې تل خپله خواخوږي ښکاره کړيده .

ششم میزان روز نجات کشور

سعید بدخشانی

بلا تردید ششم میزان ۱۳۷۵هجری شمسی در تاریخ افغانستان یک روز سرنوشت ساز وتاریخی تلقی میشود.زیرا در این روز یک صفحه سیاه تاریخ کشور ورق زده شد،دوره های منحوس هرج ومرج تنظیمی ،قتل وغارت خاتمه داده شد وپرچم سفید پرافتخار مزین به کلمه توحید برفراز قصرها وادارات دولتی در پایتخت به اهتزاز درآمد.

آری!امارت اسلامی درشرایط نهایت حساس وخلاء قیادت اسلامی سالم روی صحنه آمد،هنگامیکه درکشور یک رهبریت سالم ومحوری وجود نداشت تا که ملت تحت زعامت وحمایت آن زیست،واز مزایای اسلام،عدل وانصاف بهره می برداشتند،خلاصه همچو یک حرکت را ملت افغان در خواب تصور میکردند،لکن حرکت طالبان این آرمان وخواب مردم کشور را به حقیقت مبدل ساخت،امارت اسلامی نه تنها که روحانیون وحلقات مذهبی ودینی کشور را عزت و افتخار بخشید بلکه تمامی حرکت های جهادی و اسلامی اهل سنت والجماعت جهان اسلام به این حرکت افتخار می ورزیدند.

طالبان ونابودی فساد:

پیش از ظهور حرکت خود جوش اسلامی طالبان تحت قیادت امیر محبوب وشایسته ملامحمد عمرمجاهد رحمه الله، ملت افغان درگیر جنگهای خانومان سوز داخلی،قومی،سمتی، نژادی وتنظیمی بودند که دراین جریان تمام شهرها،مخصوصاًشهرکابل به ویرانه مبدل شده بود،میلونها شهروند ا فغان کشته،مجروح،جلاوطن ویاهم مجبور به ترک خانه وکاشانه خویش وراهی دیار اغیار وهجرت شدند،همینگونه افغانستان نه تنها که فاقد یک اداره واحد بود بلکه کشور محل بُزکشی وزمام ملت همانند گوساله، زیر پای هفت چاپه انداز(هفت تنظیم)و میدان تاخت وتاز کشورهای مغرض اعم از شرق وغرب گردیده بود.

دیری نگذشته بود که خدای عزوجل دعاء ملت مظلوم را اجابت کرد،حرکت اسلامی طالبان تحت زعامت امیر کبیر ومخلص ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله به میدان آمد واین حرکت برزخم ملت رنج دیده مرهم گذاشت.

حرکت اسلامی طالبان تحرکات جهادی خویش را از قندهار آغاز وبلادرنگ اقدام به عملی وتطبیق فرامین الهی نمودند،این حرکت مخلصانهء برق آسا ودرمدت کمی اکثر اراضی کشور را فراگرفت وبساط جبر ،ظلم،ملک طوایفی،تعصب،قوم گرای ،پاتک سالاری وجنگ های داخلی وذات البینی را دور و نظام شرعی را حکم فرما ساخت،عاقبت ملت ستمدیده از شرواعمال نافرجام غارتگران وچپاولگران نجات یافته وتحت پرچم پرافتخار اسلام ویک نظامی کاملاً اسلامی سکونت میکردند.

قیام طالبان برای نظام اسلامی بود.

یگانه هدف وآرمان این حرکت تنفیذ نظام اسلامی واحیاء خلافت های ازدست رفته اسلامی بود که آنرا تحقق بخشیدند وبرجهانیان بازگو کردند که در امت محمدی صلی الله علیه وسلم کسانی وجود دارند که در راستای زنده نمودن نظام اسلامی وتطبیق شریعت از هیچ نوع قربانی دریغ نخواهند ورزید.

این داعیه ومقصد بزگ اسلامی یگانه مرامی بود که کفار وهمپیمانان نظریاتی وفکری شان که در فروپاشی خلافت های اسلامی نقش داشتند نمیخواستند همانند خلافت های اسلامی امارت اسلامی دیگری در روی گیتی ظهور ومسلمانان را بخود جلب نماید.

بلا ریب جهان کفر،ملل متحد که یک نهاد ساخته وپرورده استکبار جهانی(امریکا)میباشد را تقویت وپشتیبانی میکنند،همین ملل متحد کفری بود که مسلمانان را بعناون مختلف پارچه پارچه وسرزمین های اسلامی را بلحاظ جغرافیوی به کشورهای خورد و کوچک تقسیم نمود،همینگونه با افکار ضد اسلامی وبشری خویش قلوب مسلمانان را تا اندازهء غافل وبسوی لهو ولعب دنیوی وکفری مایل ساختند تا که مسلمانان بخصوص نسل جوان تصور یک قیادت واحد اسلامی جهان شمول واعاده امارت های اسلامی را نکنند.

خداوند مکمل نور و دین خود است اگر چه کافران بد پندارند،همین بود که الله بی نیاز مسلمانان جهان به ویژه ملت مجاهد افغان را زیر پرچم پرافتخار اسلام و امارت اسلامی جمع کرد،واقعاً این حرکت شریعت، عدالت وامنیت را در قلمرو خویش تطبیق نمودند.

لذا جهان کفر بامشاهده امنیت،عدالت، ایثارگری واخوّت اسلامی وتجمع مجاهدین آنهم در لباس صاحبه ویاران راستین پیامبر بزرگ اسلام خوف زده وپریشان شدند که اگر ما به نابودی این حرکت اسلامی نپردازیم عنقریب دیموکراسی ونظامهای خود ساخته بشری وکفری ما از بین میرود همین بود که با دسایس گوناگون گاهی شیخ اسامه رحمه الله را بهانه ساختند که برای ماتحویل دهید وگاهی

واقعه یازده سپتمبر در نیویارک را وبهانه های دیگری همانند آن،لکن مقام رهبری امارت اسلامی به ویژه امیرکبیر ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله با کمال شجاعت ،متانت وایمان داری به حرف های غرب گوش نداده ودلیرانه از مسلمانان دفاع نمود، به اسلام وافغانیت افتخار بخشید وامارت خویش را فدای یک شخصیت مجاهد ومبارز مسلمان نمود،وافزود: من در حکمرانی خود چنان تاریخی نخواهم گذاشت که برای افغانان در آینده عار باشد.

بلی!فتح کابل در ششم میزان بدست نیروهای امارت اسلامی از خاطری در تاریخ افغانستان مهم دانسته می شود،که در این روز بی نظمی،چور وچپاول، جنگ های ذات البینی وبساط نابسامانی های نافرجام از پایتخت کشور جمع گردید.وشهروندان کابل طالبان را بحیث نیروی نجات دریافتند،زیرا با ورد مجاهدین امارت اسلامی به کابل همه مفاسد مانند رقصه مرده،سینه بری،میخ کوبی،غارت دارایهای دولتی وشخصی ازبین رفت،ومردم مظلوم از بربریت نجات یافته و نفس راحت کشیدن.

* * *

حیران

«لنډه کیسه»

حمیدالله حیدرخېل

له تلاشۍ به دوه سوه متره مخکې نه وم لاړ، ماشومان د سرک په غاړه ولاړ وو، خدای خبر له څه وختــه بــه ولاړ وي خو په سرک د موټرو تلو راتلو له وجې د سرک پورې غاړې ته نه شول پورې کیدلی. ورته رانږدې شوم موټر مې ودراوۀ سم لا ولاړ نه یم چې تر شا یو موټر هارنګونه راپسې شروع کړل، په لاس مې ماشومانو ته اشاره وکړه،موسکي شول یو بــل تــه یې لاسونه ورکړل او په کراره د سرک پورې غاړې ته راپــورې شول، روان شوم تر شا موټر زما له موټر سره په څنګ شــو شیشه یې ټیټه کړه او په تونده ژبه یې وویل: ته انسان یې که خر چې په سرک باندې ودریدې؟

مخ مې وروارۀ دوه تنه وو، ږیرې یې کلې وې، بریتونه یې په شوندو راځوړند وو پکولونه یې پر سرونو وو او ګــلان یې په کې ټومبلي وو، شوندې یــې لــه نصــوارو ډکــې وې او ټوپک ورسره وو. زر مې ځواب ورکړ؛ تاسو ونه لیدم چې څــه ته ولاړ وم؟

ټنده یې نوره هم زیړه کړه سر یې له شیشې رابهر کــړ ژبه یې په شوندې کې راتاوه کړه، ساه یې کش کــړه پروفــف شو، د نصوارو په غوندارې یې زما موټر وویشت، له خولې یــې لاړې باد شوې په لوړ غږ یې وویل؛ خبرې ډېرې مــه کــوه !!! چې در کوز شم دا تومیزي دربانديې په دا بل لټ اړوم.

ما چې ځواب ته خوله برابره کړه نــو مــوټر بیــا نــه ؤ یواځې په سرک توره لړه پاتې وه.

حیران دې ته شوم چې دوئ څنګه پــه تلاشــۍ راتېــر شول؟

داسلام غزوات اوسرايا

دمُريسيع يا بَنى المُصطلَق غزوه

ابو ظهير

مريسيع ديوې چينې نوم دی، چيرې چې د بنی خزاعه قبيلې يوښاخ بنی مصطلق اوسيدل دهجرت په پنځم کال رسول الله ﷺ ته خبر راغی چې دبني المصطلق سردار حارث بن ابی ضرار يو ستر لښکر ددې لپاره راټول کړی دی چې غواړي په مسلمانانو حمله وکړي، رسول الله ﷺ ددي خبر دپخلي لپاره يوتن صحابي بريده بن حصيب اسلمي رضي الله عنه واستاوه، هغه لاړ او بيرته راغی رسول الله ﷺ ته يې وويل: چې خبره رښتياده، رسول الله ﷺ سملاسي دروانيدو حکم وکړ.

صحابه تيار شول ، ديرش اسونه يې دځان سره کړل چې لس دمهاجرينو وو، اوشل دانصارو ، په مدينه منوره کې يې زيد بن حارثه رضي الله عنه ځای ناستی پريښود، دغنيمتونو په طمع لوی شمير منافقان هم ورسره روان شول حال داچې ددښه وراندي هيڅ غزاته نه وولاړ د مطهراتو ازواج نه رسول الله ﷺ دمومنانو مور حضرت عايشه صديقه رضي الله عنها او حضرت ام سلمة رضي الله عنها ځان سره بوتلې دتريخ پوهانو په قول: دا دوشنبې ورځ وه او دشعبان ۲مه نيټه وه ابن اسحاق وايي: دهجرت ٦ کال و، ځيني وايي: ۴ کال و قتاده، عروه بن زبير او ابن شهاب زهري وايي: د هجرت ۵کال او دشعبان مياشت وه، موسی بن عقبه، ابن سعد،بيهقي اوحاکم هم داقول غوره بللی حافظ عسقلاني وايي: دا قول ځکه صحيح دی چې پکې د سعدبن معاذ رضي الله عنه ګډون بخاري کې راغلی او له صحيحه روايتونو او معتبرو احاديثو څخه ثابته ده چې سعد بن معاذ رضي الله عنه کله دخندق غزوې نه وزګارشو بني قريظه سره دجنګ په زمانه کې وفات شو، چې دهجرت ۵ کال و اوکه دمريسيع غزوه په ٦ کال شي بيا پکې دسعد بن معاذ رضي الله عنه ګډون څنګه سهي کېدای شي ؟ (تفصيل په فتح الباري کې وګورئ ۷ټوک ۲۳۲مخ زرقاني ۲ټوک ۹٦مخ)

رسول الله ﷺ او ملګري يې دومره لاړل چې په دښمن يې په داسې حال کې ناڅاپه برید وکړې هغوی (دبني مصطلق خلکو) خپل څاروی اوبه کول او دبرید تاب يې را نه وړو تري لس کسان ووژل شول او پاتې نارينه ،ميرمني ،ماشومان او سپين ږيري يې ټول ژوندي ونيول شول مالونه يې (دوه زره اوښان ۵زره وزې) غنيمت شول او د دوه سوه کورنيو وګړي تري بنديان کړای شول

ځيرنه:

داپورته روايت :چې رسول الله ﷺ اوملګرو يې په بني مصطلق قبيلې په داسې وخت کې ناڅاپه حمله وکړه چې هغوی خپلو څارويو اوبه ورکولې.... دبخاري شريف په کتاب العتاق (۱ټوک ۳۲۵مخ) کې له نافع څخه روايت شوی او نافع وايي:

حدَّثنی به عبد الله بن عمر وکان فی ذلک الجيش

دا حديث ماته عبد الله بن عمر بيا کړی دی څوک چې دلښکر سره يوځای وو.

دمحدثينو له نظره ياد روايت په مرتبه دمرفوع متصل کې دی بالفرض که ددي روايت سلسه په نافع هم پای ومومي نو دمحدثينو په اصطلاح ورته مرسل ويل کېږي کوم چې دجمهورو سلفو په نزد حجت دی نه

منقطع، خو دا نده معلومه چې علامه شبلي نعماني په سيرة النبي ﷺ کې (۱توک ۳۸۲مخ) په کوم دليل دي حديث ته منقطع ويلي اوپه دې توګه يې دغيرمعتبر ګرځولو ناکام کوښښ کړی دی دسير دروايت او بخاري دروايت ترمنځ هيڅ تعارض نشته ځکه چې دسير دروايت څخه دومره معلوميږي چې بني المصطلق ددينه خبر وو چې رسول الله ﷺ په دوی دحملې اراده لري خو دومره نه وخبر چې دومره ناڅاپه به وربانديې حمله کوي څنګه چې دبخاري په روايت کې دي چې کله رسول الله ﷺ په هغوی برید وکړ نو ناخبره او غافل وو

په بندیانو کې دبني مصطلق د سردار حارث بن ابي ضرار لورجويريه هم وه، دغنيمت مالونه چې کله په غانيمينو وويشل شول جويريه ثابت بن قيس رضی الله عنه ته په برخه ورغله، ثابت بن قيس I جويريه مکاتبه وګرځوله يعنې که دومره مقدار پيسې راکړې زه به تا ازاده کړم.

حضرت جويريه (رض) درسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره شوه او عرض يې وکړ:

دالله ﷻ رسوله: تاته معلومه ده چې زه جويريه دبني المصطلق دسردار (حارث بن ابي ضرار) لوريم زما داسارت حال له تاڅخه پټ ندی په ويش کې دثابت بن قيس رضی الله عنه په برخه رسيدلې يم او هغه مکاتبه ګرځولې يم، دکتابت دبدل لپاره زه له تا څخه داعانت او مرستې ارزولرم!

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

زه تاته ددې څخه غوره څيز ښييم که غواړي چې ستا لخوا واجب الاداء پيسې زه اداء کړم او تاازاده دې کړم اوبيا پخپله نکاح کې واخلم څنګه ته راضي يې؟

حضرت جويريه رضی الله عنها وفرمايل:زه راضي يم (رواه ابو داود کتاب العتاق)

له پيله هم د جويريه ارزو داوه چې ازاده کړای شي اتفاقاً دهغې پلار حارث بن ابی ضرار هم درسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او عرض يې وکړ:

زه دبنی المصطلق سردار يم زما لور وينزه نشي- کيدای، ته هغه ازاده کړه!

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ښه نده چې زه دا معامله پخپله دجوريې خو ښې ته پريږدم چې هره پريکړه کوي ماته دمنلو وړ وي، حارث پورته شو جويريې ته يې وويل:رسول الله ﷺ ستاخوښې ته معامله پريښوده ...

جويريه رض وويل: زه الله او دهغه رسول ﷺ غوره کوم (رواه ابن منذروسنده صحيح) (الاصابه ۴توک ۲۶۵)

دعبد الله بن زياد څخه روايت دی چې دحضرت جويريه پلار حارث بن ابي ضرار ځان سره زيات اوښان مدينې منورې ته راوستل څو دفديې په ورکولو خپله لور ازاده کړې او دوه اوښان چې نهايتي عمده وو، په يو چول کې پټ کړل چې دځان سره به يې بيرته په تلو کې بوزي کله چې مدينې ته درسيدو وروسته درسول الله ﷺ په وراندې حاضر شو او اوښان يې وراندې کړل رسول الله ﷺ وفرمايل:

هغه دوه نوراوښان چيرې دي ، چې تا په فلاني ځای کې پريښودل ؟

حارث وويل:

اَشهَدُ اَنک رسول الله

زه ګواهي ګوم چې بيشکه ته دالله ﷻ رسول يې!

دالله جَلَّجَلَالُهُ پرته بل هیڅوک دهغواوښانو څخه نه خبر و، نوتاته په اړه یې الله جَلَّجَلَالُهُ خبر در کړی دی.(اصابه ترجمه حارث بن ابي ضرارض)

غرض دا دی چې رسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ حضرت جویریه رضی الله تعالی عنها ازاده کړه او پخپله نکاح کې یې واخسته کله چې صحابه خبر شول نو هغوی هم دبني المصطلق ټول قیدیان په دې ازاد کړل چې بنې المصطلق درسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ سره دخسر ګنې له پلوه رشته لري دمومنانو مور حضرت عایشې صدیقې رضی الله تعالی عنها فرمایل:

ما د خپل قوم په حق کې دجویریه پرته بله هیڅ میرمن دومره دبرکت درلودونکې نده لیدلې چې په وجه یې په یوه ورځ کې سل کورنۍ ازادې شوې (کتاب العتاق ۲ټوک ۱۹۲مخ)

داچې په دې سفر کې منافقینو هم ګډون لاره، هغوی په هره موقع دخپل شرارت او فتنې خورولو کوښښ کاوه، لکه داوبو په یوه چینه دیومهاجر او یوتن انصاري ترمنځ جنګ پیښ شو، مهاجر انصاري په لغته وواهه مهاجر دخپلې مرستې لپاره دیا للمهاجرین ناره دخولې وویسته او انصاري د یا للانصار ناره ووهله کله چې رسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ دا غږونه واریدل نو وې فرمایل:

دا دجاهلیت غږونه دچاوو؟ خلکو عرض وکړ: دالله رسوله یوتن مهاجر یو انصاري په لغته وواهه رسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ وفرمایل:

دَعُوهَا فَأَ نها مُنتِنَة

دا خبرې پریږدئ په تحقیق سره دا ناوړه او بدبویه دي.

دمنافقیینومشر عبد الله بن ابی بن سلول ته هم دخبرو چانس پیداشو هغه وویل:

دا(مهاجرین) په مونږ واکمن شول، په خدای سوګند چې مونږ بیرته مدینې ته ستانه شو عزت لرونکي به ذلیلان وباسي.

کله چې رسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ ته خبر ورسید حضرت عمر رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ عرض وکړ:

یار سول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ ماته ددي منافق دسرپریکولو اجازه وکړه

رسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ وفرمایل:

پریږده یې(خلک په ربښتیني حقیقت نه پوهیږي) ګومان به کوي چې محمد صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ خپل ملګري قتلوي.

عبد الله بن ابی بن سلول ربښتیا هم د رسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ له ملګرو څخه نه و، بلکې ترټولو سخت دښمن یې و، خو په ظاهري صورت او شکل درسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ دصحابه وو پشان و، او په ژبه درسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ دملګرتیا مدعي و، له دې وجې رسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ یې دقتل اجازه نه ورکوله یعنې دمخلصانو صحابه وو سره دتشبه په وجه دمرګ څخه خلاص شو مولانا محمد ادریس کاندهلوي لیکلي: دنیکانو خلکو سره تشبه اګرکه منافقانه هم وې خو بیکاره او له ګټې خالي نده ...

ددې مسئلې نور تحقیق دمولانا قاري محمد طیب رَحِمَهُٱللَّهُ (د دارلعلوم دیوبند پخوانی مهتمم) په غوره تصنیف التشبه فی الاسلام کې شته هغه په یاده موضوع دعالمانه تحقیق له پلوه لامثال دی.

نوربیا...

دجهاد فقهي مسائل

[۳۱مه برخه]

[مفتي ابومحمد حقاني]

کفارو سره دجګړې د اختتام اسباب:

اسلام منل، جزیه ورکول، یا سوله!

دسولې دتړون پایلې:

دفقهاووتر مینځ دې کې اختلاف نشته، بلکې اتفاقي خبره ده ،چې کله دسولې هوکړه لیک یا تړون لاسلیک او ټول شرطونه یې بشپړشي ،نو دهوکړه لیک یا دسولې دتړون دواړه لورې یو له بل څخه مصؤن او ددوئ ځانونه ،مالونه اواهل بیت دتعرض څخه خوندي شول ،دواړه معاهدین او سوله وال ددې اجازه نلري، چې دمقابل لورې په ځان ،مال یا نوروشیانو تعرض وکړي اوپایمال یې کړي ،دمسلمانانو په امام یا هغه ائمه وو باندې چې دده له مړینې یا عزل نه وروسته دده ځاینانو ستې وي، دا لازم ده، چې دمسلمانانو له اذیت څخه ددې معاهدینواو دسولې بل لورې باندې برید ونکړي،همداسې به یې دارالاسلام کې داهل ذمه وو له بریدونو څخه هم ساتي ،ددې لپاره دلیل دا آیت کریمه دی چې : { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ } (سورة المائدة / ۱ .) ، وَقَوْلِهِ عَزَّ مِنْ قَائِلٍ : { فَأَتِمُّوا إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَى مُدَّتِهِمْ } (سورة التوبة / ۴ .) دې مذکورو کریمه آیتونو کې الله تعالی دعهد او ژمنودپوره کیدو او پرې دوفا حکم کړی او ددې تعمیل واجب دی ،نو که چیرته احیانا مسلمانان یا اهل ذمه دمعاهدو کفارو څه شئ تلف کړي، نو بیا دا واجب ده، چې دا متلف(فاعلي حالت) ددې تلف شوي تلافي وکړي او ضمان یې تأدیه کړي، مذکورمسایل په (الموسوعة الفقهية) کې مفصل لیکل شوي دي .

اوس داخبره هم واضح کول ضرور دي، چې دکفارو سره دهوکړه لیک یا مصالحت وروسته داهل حربو څخه دمعاهدینو یا مقابل لورې حمایت یا ساتنه همداسې ددوئ بعضي خلک له نورو بعضو څخه ساتنه هم پر مسلمانانوواجب ده که څنګه ؟دې ځواب کې (الموسوعة الفقهية

الكويتية)ددې (مغني المحتاج ۴/ ۲۶۰ ـ ۲۶۱ ـ ۲۶۲، تحفة المحتاج ۹ / ۳۰۷ ، شرح روض الطالب ٤ / ۲۲۵ ، المغني ۸ / ٤٦۳ ، شرح السير الكبير ۲ / ۸۲ ، البدائع الصنائع۷ / ۱۰۹ ، الدسوقي ۲ / ۱۸٤ ، جواهر الإكليل ۱ / ۲۷۰ ، كشاف القناع ۳ / ۱۱۵ .)ګڼو مختلفوحوالو اواهل مذهبو دکره علماوو په کتابونو له حوالې وروسته داسې ځواب ليکل شوی : أَمَّا حِمَايَتُهُمْ مِنْ أَهْلِ الْحَرْبِ ، وَكَذَا حِمَايَةُ بَعْضِهِمْ عَنْ بَعْضٍ فَلا تَلْزَمُ الْمُسْلِمِينَ ، لأَنَّ الْهُدْنَةَ الْتِزَامُ الْكَفِّ عَنْهُمْ فَقَطْ لا حِفْظُهُمْ ، بِخِلافِ عَقْدِ الذِّمَّةِ حَيْثُ نَدْفَعُ عَنْهُمْ مَا نَدْفَعُ عَنْ أَنْفُسِنَا. ژ:يعنې له محاربو کفارو څخه ددوئ ساتنه پر مسلمانانولازم نده، همداسې ددوئ دځينو نورونه ددوئ حمايت واجب ندی،داځکه چې مهادنه يا مصالحه يوازې ددې لپاره کيږي، چې مسلمانان به ورته تکليف نه رسوي ،نه ددې لپاره چې ددوئ ساتنه به هم مسلمانان کوي، البته داهل ذمه وو مسئله دلته ددوئ نه څه تفاوت لري ،او هغه داسې چې دمعاهدو ذميانوساتنه دمسلمانانوپه شان واجب ده او دا له محاربينو څخه بيل حکم لري .

همداسې احناف علماء رح فرمايي : چې که چيرته دموادعينو يا معاهدينوڅخه کومه ډله يا قبيله داسې يوې سيمې يا علاقې ته لاړه ، چې هلته مسلمانان اوسيدل، خو دهغوئ سره داسې کوم عهد امان ددوئ په برخه کې نه و شوی او هغوئ غزا کوله ،نوهغه مسلمانان به هم دوئ ته تکليف نه رسوي او ددوئ امان به عام وي ،لکه الموسوعة کې داسې عبارت رانقل شوی : وَقَدْ نَصَّ الْحَنَفِيَّةُ عَلَى أَنَّهُ لَوْ خَرَجَ قَوْمٌ مِنَ الْمُوَادِعِينَ إِلَى بَلْدَةٍ أُخْرَى لَيْسَتْ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْمُسْلِمِينَ مُوَادَعَةٌ ، فَغَزَا الْمُسْلِمُونَ تِلْكَ الْبَلْدَةَ ، فَهَؤُلاءِ آمِنُونَ لا سَبِيلَ لأَحَدٍ عَلَيْهِمْ.....فقهاوو فرمايلې :چې همداسې که چيرته يو څوک دارالموادعة ته ننوت او بيا ترې راووت او دارالاسلام ته راغی، نومسلمانانوته ددې اجازه نشته ،چې اذيت ورته ورسوي ،خوکه چيرته له دارالموادعة څخه نيغ دارالحرب ته لاړ او بيا وروسته دارالاسلام ته را ننوت ،نو دې وخت کې دا نيول کيدا ی شي او دا بيا مال فئ کې ګرځي،هم يې وژلای او هم يې اسير کولای شي.ځکه دادې وخت کې حربي دی او دامان دحکم لاندې ندی داخل .

که چيرته دنوروسيمو خلکوله دارالموادعة يا معاهدينو نه څوک له ځان سره اسير کړي او بيا مسلمانانو پر هغوئ باندې حمله وکړه او هغه اسير يې ترې له ځان سره بوت، نودا اسير مال فئ دی، خو که چيرته سوداګر دارالموادعة ته ورغی ،نو هغه به په امان کې وي او حکم يې دمخکيني اسير څخه جلا دی، دا فقهي جزئيات په (البدائع الصنائع للكاساني ۷ / ۱۰۹ .)کې په پوره وضاحت او تفصل سره شتون لري .

هغه څوک چې امام شافعي رَحِمَهُ ٱللَّهُ سره يې حسد کاوه!

ژباړه: عبيد الله حبيبي

د امام شافعي رحمه الله په و خت کې يوه ډله علماوو چې د هغه سره يې د هغه د ځيرکتيا او پوهې له لامله حسد او کينه کوله او تل به يې هغه ته د اميرانو په وړاندې دسيسې جوړولې ،يوځل ټولو مشوره ورکړه، چې بايد د هارون الرشيد په وړاندې له هغه څخه سختې فقهي پوښتنې وشي، چې هغه يې جواب ونه ويلی شي ،نوهارون الرشيد په دربار کې امام شافعي رح او دوئ حاضر شول او له هغه څخه يې پوښتنې پيل کړې.

. 1 په دوه عاقلو مسلمانانو چې شراب وڅښي، په يوه ولې حد جاري کېږي او په بل نه؟ امام شافعي ځواب ورکړ: ځکه يو ماشوم او بل بالغ دی.

. 2 پنځه کسانو له يوې ښځې سره زنا وکړه، په اول قتل واجب شو، په دوه يم رجم، په دريم حد، په څلورم نيم حد او په پنځم هيڅ هم نه.

امام شافعي ځواب ورکړ: لومړي کس زنا حلاله ګڼله، نو مرتد دی او قتل يې واجب دی، دو يم واده لرونکی دی، درېيم مجرد ځوان دی، څلورم غلام دی او پنځم لېونی.

. 3 يو سړی لمونځ کوي، چې ښي طرف ته يې سلام واړاوه ښځه پرې طلاقه شوه، چې چپ طرف ته يې واړاوه ،لمونځ يې باطل شو، او چې اسمان ته يې وکتل نو زر درهمو اداينه پرې واجب شوله.

امام شافعي ځواب ورکړ: کله يې چې ښي طرف ته سلام واړاوه ،نو هغه سړی يې ولېد، چې ده يې په نه شتون کې له ښځې سره نکاح کړې وه، کله يې چې چپ طرف ته سلام واړاوه، نو په جامو يې ګندګي وليده او لمونځ يې باطل شو او کله يې چې اسمان ته وکتل نو مياشت يې وليده، چې بايد د هغې مياشتې په را برسېره کېدو قرض اداء کړي .

. 4 د هغه امام په اړه څه وايی، چې په جومات کې د څلورو کسانو امامت کوي، يو بل سړی راننوت او کله يې چې سلام وګرځاوه، نو امام بايد قتل شي،

څلور واړه مقتديان بايد په درو ووهل شي او جومات بايد رنګ کړی شي.

امام شافعي ځواب ورکړ: دا کوم بيرونی سړی چې جومات ته راننوت، نو دا پر سفر و، کله چې سفر ته تللو نو خپله ښځه يې د ورور په کور کې پريښې وه، هغه کس يې وواژه او دعوه يې وکړه، چې دا ښځه ددې مقتول مېرمن ده دې څلور کسانو پرې ګواهي ورکړه او ده ورسره نکاح وترلـه او دا جومات ددې مقتول کور و.

. 5 يو کس اوبه را واخستې حلالې يې وڅښلې او پاتې حرامې يې پرېښودې؟

امام شافعي ځواب ورکړ: دې کس اوبه وڅښلې او په نيمايي کې يې پرنجی وکړ او له پوزې يې په ګيلاس کې وينې تويې شوې، نو پاتې اوبه ورته حرامې شوې.

. 6 دوه کسان د بام په سر وو، يو يې را پرېوت او مړ شو او په دې بل له خپلې ښځې سره نکاح حرامه شوه؟

امام شافعي لږ فکر وکړ، بيا يې ځواب ورکړ: هغه کس چې له بام څخه را پرېوت ،خپله لور يې دې غلام ته چې د بام په سر يې ورسره کار کاوه، ورکړې وه، کله چې هغه مړ شو، نو لور يې ددې غلام بادارہ شوه او له هغه سره يې نکاح حرامه شوه. هارون الرشيد چې د امام شافعي ځيرکتيا وليده ،نو خپله حيرانتيا يې پته نه کړی شوه، نو ويې ويل: بني عبد مناف چې وينا کوي، نو ډېره ښه يې کوي، په خبرو کې يې فصاحت او په تفسير کې يې بلاغت شته دی.

امام شافعي رحمه الله ورته وويل: الله تعالی دې د اميرالمؤمنين عمر ډېر کړي، زه له دوی څخه پوښتنه کوم، که چېرته يې ځواب راکړ ،نو د شکر ځای دی او که يې رانکړ، نو بيا ما د دوئ له شر څخه خلاص کړه.

هارون الرشيد ورته وويل: ته دې سوال وکړه، غوښتنه مو منل کېږي مهرباني وکړئ.

امام شافعي رحمه الله پوښتنه وکړه: يو کس مړ شو (٦٠٠) ديناره ترې پاتې شول، خور ته يې يوازې يو درهم ورسېد، نو دا څه ډول هغې ته يواځې يو درهم ورسېد؟

دې خلکو ډېر فکر وکړ، خو ځواب يې پيدا نه کړ، بيا له ډېر ځنډ وروسته هارون الرشيد امام شافعي ته امر وکړ چې ته يې ووايه.

امام شافعي ځواب ورکړ: دا کس مړ شو، دوه يې لونې، يوه يې مور، دوولس يې ورونه او يوه يې خور ده، لونو يو دوه ثلثله يعنې ۴۰۰ درهمه واخستل مور يې شپږمه برخه واخسته يعنې ۱۰۰ درهمه، ښځې يې اتمه برخه واخسته يعنې ۷۵ درهمه، ۲۴ درهمه يې ورونو او يو يې خو رته ورسېد.

هارون الرشيد په دې ځواب ډېر سخت خوشحاله شو ،ورته يې دعا وکړه، چې الله دې ستا په شان عالمان زما په کورنۍ کې زيات کړي، د ۱۰۰۰ درهمو د ورکړې امر يې وکړ، امام شافعي هغه درهم د قصر په خادمانو ووېشل.

د هارون الرشید په نوم د حضرت سفیان ثوري «رحمه الله» لیک

ژباړه: بهیر ستانکزی

هارون الرشید دځواک دلاسته راوړلو وروسته، امام سفیان ثوري رح ته دعباد الطلقاني په لاس لیک واستاوه، چې په هغه کې یې لیکلي وو،چې زه ستا دلیدو ارزو لرم او شکایت یې کړی وو،چې نورو علماوو ماسره لیدنې وکړې او مبارکي یې راکړه، لیکن نه تا مبارکي راکړه او نه دې راسره لیده وکړل.

دا خط حضرت امام ته هغه وخت ورسید، چې هغه دکوفې په مسجد کې دشاګردانو تر منځ ناست و، دخط تر اوریدو وروسته هغه وویل ددې لیک په شا زما ځواب ولیکئ :

"دسفیان ثوري رح دالیک دحق یوه ښکاره نمونه ده، دقضا دلوړوالي او دقضا(على السلطان واعوانه) په هکله دالاندې اقتباس وګورئ"

(يَا هَارُونُ .. قَعَدْتَ عَلَى السَّرِيرِ ، وَلَبِسْتَ الْحَرِيرَ ، وَأَسْبَلْتَ سُتُورًا دُونَ بَابِكَ ، وَتَشَبَّهْتَ بِالْحَجَبَةِ بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ثُمَّ أَقْعَدْتَ أَجْنَادَكَ دُونَ بَابِكَ ، وَسَتَرْتَ يَظْلِمُونَ النَّاسَ ، وَلا يُنْصِفُونَ ، وَيَشْرَبُونَ الْخَمْرَ وَيُحِدُّونَ الشَّارِبَ ، وَيَزْنُونَ وَيُحِدُّونَ الزَّانِيَ ، وَيَسْرَقُونَ السَّارِقَ ، وَيَقْتُلُونَ وَيُحِدُّونَ الْقَاتِلَ .

أَفَلا كَانَتْ هَذِهِ الأَحْكَامُ عَلَيْكَ وَعَلَيْهِمْ قَبْلَ أَنْ يَحْكُمُوا بِهَا عَلَى النَّاسِ .)

اې هارونه ،ته په تخت ناست یې ،دوریښمو کالي دې اغوستي دي په دروتزو دې پردې راځوړندې کړي او خلکو څخه په پټوالي سره دخداي ﷻ سره مشابهت کوې ،ددې نه پرته تا په دروازه کې هم خلک ټاکلي دي، چې په ظلم حکم کوي، انصاف نکوي، هغوئ په خپله شراب څښي، خو نوروشراب څښونکو ته سزا ورکوي، په خپله زنا کوي، خو نورو زنا کوونکو ته سزا ورکوي، په خپله غلا کوي ،خو دنورو غلو لاسونه پرې کوي، په خپله وژل کوي، خو دنورو وژونکو څخه قصاص اخلي، نو ایا دخداي ﷻ داقوانین په تا او ستا په دې مامورینو دنورو څخه تر مخه دجاري کیدو له پاره نه دي راغلي ؟

دلیک په شروع کې یې دملت دخزانې په بې ځایه استعمال سخت تنقید کړی او په اخر کې یې دقیامت دورځې څخه ویرولی دی.

"وَإِيَّاكَ ثُمَّ إِيَّاكَ أَنْ تَكْتُبَ إِلَيَّ بَعْدَ هَذَا ، فَإِنِّي لا أُجِيبَكَ وَالسَّلام ."خبر اوسه خبر اوسه چې اینده کې زما په نوم هیڅ لیک ونه لیکې او که نه زه به ځواب درنکړم والسلام

کله چې هارون رشید ته دا لیک ورسید، نو دسترګو څخه یې اوښکې روانې شوې ،یو درباري ورنه پوښتنه وکړه، چې هغه ستا په مقابل کې دېر جرات ښودلی دی، دهغه نیول پکار دي

هارون ورته وویل:

ته د دنیا بنده یې او سفیان رح یوازې د یو امت حیثیت لري.

په لمانځـه کې څرنـګه خشـوع ترلاسـه کولای شو؟

مفتي پزير احمد

څرنګه چې لمونځ داسلام له مهمو پنځو بناوو څخه یو دی ، اودقیامت په ورځ به لمړی پوښتنه دلمانځـه په اړه کیږي اوهغـه لمونځ دالله تعـالی جـل شـانه پـه دربـارکې قبـول دی ،چـې پـه خشـوع سره تـرسره شي ، مګـر لـه بـده مرغـه چـې زمـور ډیر ورونه له خشوع څخه ناخبره دي او آن ځینې ورونه خو هسې ښکته پورته شي اوګمان کوي ،چې نور یې له لمانځه غاړه خلاصه شوي اوپه دې ګډوډ لمونځ باندې دهغـه اجـر اوثـواب طمعـه لـري چې الله جـل جلاله یې وعده کړې ، خوحقیقت دادی ،چې په کوم لمـونځ کـې خشـوع نـه وي، هغـه دالله تعـالی پـه دربارکې دقبول وړ نـه دی ، نـو داچې پـه څـه ډول پـه لمانځـه کـې خشـوع ترلاسـه کـړو، نـو راځئ پـه دې اړه دالیکنه ولولو !

پـه لمانځـه کـې دخشـوع ترلاسـه کولـو لپاره درې درجې دي :

پـه لمانځـه کـې دخشـوع ترلاسـه کولـو درې درجې او درې زینې دي ، لمړی درجه داده، چې کوم الفاظ په ژبه سره اداء کیږي، دهغو الفاظو طرف تـه مـو توجه وي ، دوهمه درجه یې داده، چې دهمـدي الفـاظو معانیو ته مو فکر وي ، اودریمه درجـه داده، چې لمـونځ په دې فکرسره اداء کړو، لکـه چې مـور الله جـل جلالـه وینو ،یا کم ترکمه که مور یې نه وینو، نو الله تعالی خو مو وینې ، او د(سورة المؤمنون)په لمړي آیـت کې چې دکامیابو مؤمنانو کوم صفت بیان شوی ،چې په لمانځـه کې خشوع کوي ، هلته په دې خبره هـم تنبیـه راکـړل شوي، چې یوازې په لمانځه کولو بایـد اکتفاء ونـه کـړو، بلکې په لمانځه کـې دخشـوع پیـداکولو هـم پـوره هڅـه اوکوشش وکړو!

اکثره خلک شکایت کوي ،چې زه کله لمونځ کوم، نو ډیر خیالونه اوفکرونه راته پیداکیږي ، مور بایـد ددې خیال اوفکر له املـه پریشان نه شـو ،بلکې دهغې دلـه منځه وړلو او علاج طرف ته متوجه شو ، اصل خبره هم همدا ده، چې باید دکوم تکلیف اونقص له املـه غمجـن نه بلکې دهغه دلیـري کولـو اولـه منځـه وړلـو لاره غـوره کړو، چې ددې تکلیف اونقـص لیـري کولـو لپـاره کـومې لارې چارې شته ؟

لمړی لاره یـې داده : چې الله تعـالی لـه لمانځـه وړاندي کوم مقدمات قائم کـړي ، دهغـه خیـال وسـاتو، لمونځ خو مقصود اصلي دی، لیکن ترلمانځه وړانـدي څـو

داسي مقدمات اوتمهيدات ايښودل شوي، چې په مټ يې يو انسان اصل لمانځه ته رسيږي ، که يوانسان همدغه تمهيدي کارونه په صحيح توګه ترسره کړي ،نوپه لمانځه کې دخيالونو اوفکرونو راتلل به پخپله کم شي .

دلمانځه مقدمات : الله تعالى دلمانځه په مقدماتوکې ترټولو لړی طهارت ايښی ، ځکه خو دهرلونځ کونکي لپاره طهارت اوپاکي حاصلول ضروري دي ، په يوه مبارک حديث کې راغلي : مفتاح الصلوة الطهور ،يعني پاکي دلمانځه چابي اوکيلي ده ، په يوه بل حديث کې راغلي : لاتقبل الصلوة بغير طهور ، يعني کوم لمونځ له طهار ت اوپاکي پرته دالله تعالى په وړاندي دقبليدلو وړتيا نه لري

استنجاء : دطهارت سلسله له استنجاء څخه پيليږي ، چې په اړه يې علماء کرامو ليکلي انسان دي داستنجاء کولو په مهال دطهارت حاصلولو پوره کوشش کوي ترڅو پوري چې د بولو دڅاڅکو راتلو ويره وي ،ترهغه وخت دي ځان نه فارغ کوي چې دفقه په اصطلاح کې ورته استبراء ويل کيږي ، ځکه که په سمه توکه پاکي ونه کړله شي، په بدن يا جامو باندي يې دنجاست اثرات پاتي کيږي چې له املە يې انسان په ډول ډول فکرونو مبتلاء کيږي .

ناپاکي دخيالاتو سبب : الله تعالى په هرڅه کې څه خصوصيات ايښي ، دناپاکي يوه خاصه داده چې له املە يې دانسان په زړه کې ناپاک اوخراب خيالونه ، شيطاني وسوسې پيداکيږي ، ځکه نو دلمانځه ترټولولړی تمهيدي کار دادی ،چې دناپاکي ليري کولو اهتمام وکړای شي .

دلمانځه دوهمه مقدمه اودس : له دې وروسته دوهم تمهيدي کار اودس کول دي ، دا اودس هم يوعجيب اونادرشئ دی ، په حديث شريف کې راغلي چې : رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : کله چې يوانسان اودس کوي او په اوداسه کې خپل مخ پريولي نو له املە يې دسترګوپه مټ شوي ټول صغيره ګناهونه وينځل کيږي ،همداراز چې کله انسان لاسونه مينځي نو الله تعالى دهغه دپښو له املە کړل شوي ګناهونه ورته معافوي ، ...اوکوم څه ځلور اندامونه چې په اوداسه کې وينځل کيږي ،يامسح ورباندي کول کيږي ،په عامه توګه دبدن همدغه غړو باندي ګناهونه کيږي ، الله تعالى دا انتظام فرمايلی ،چې بنده دلمانځه لپاره زماپه حضورکې حاضريږي ،نو لړی يې بايد له بدن څخه ګناهونه ليري کړی شي ، دهغه لاس ، مخ اوپښي له ګناهونوڅخه پاک شي ، خو البته له ګناهونوڅخه صغيره او واړه ګناهونه مراد دي، ځکه لوی ګناهونه له توبي پرته نه معافيږي

دامام ابوحنيفه رحمه الله په اړه مشهوره ده، چې کله به چا دنومورې په وړاندي اودس کاوه، نو دهغه داوداسه په اوبوکې به يې دهغه دګناهونوشکلونه په نظر راتلل، چې اوس فلانی ګناه مينځله کيږي - الله تعالى نومورې ته داکشف ورکړی ؤ - په هرصورت الله تعالى ترلمانځه وړاندي اودس ددې لپاره مقررکړی، چې په دې سره نه يواځي ظاهري پاکي ترلاسه کيږي بلکه باطني صفايي اودګناهونو صفايي هم ورباندي حاصليږي .

په کوم ډول اودس سره ګناهونه وينځل کيږي : بايدوويل شي چې له اوداسه څخه دافايده هغه مهال ترلاسه کيدی شي، چې کله يوانسان دسنت

مطابق اودس وکړي ، اوهغه ډول اودس وکړي څرنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم کړی ، درسول الله صلى الله عليه وسلم يو عادت مبارک داو، چې کله به يې اودس کاوه ، نوقبلې لوري ته به يې مخ کړ ، همداراز هغه صلى الله عليه وسلم به داودس په پيل کې بسم الله الرحمن الرحيم ويله او داودس په مهال به يې خبري نه کولې، بلکې اودس کولو ته به متوجه و.

داودس طرف ته توجه : داودس طرف ته دتوجه ترټولو لويه خبره داده ،چې کله انسان خپل مخ وينځي ،نو دې ته يې بايد توجه وي ،چې زما دمخ ګناهونه وينځل کيږي ،اوکله چې لاسونه پربمنځي نو دې ته يې توجه اوفکروي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې داودس په مهال دلاسونووينځلوسره دلاسونوګناهونه معافيږي نو دامهال زما دلاسونو ګناهونه وينځل کيږي ،همداراز داوبو په استعمال کې بايد اسراف ونه کړي ، زياتي اوبه توی نه کړي ،چې دځومره اوبو ضرورت وي ،بس همدومره اوبه دي استعمال کړي ، په يوه مبارک حديث کې راغلي : اياک والسرف وان کنت على نهرجار يعني ځان له اسراف نه وژغوره که څه هم د رواني ويالي پرغاړه يې.

ګورئ که څوک درواني ويالي په اوبو په هرځومره اوبو اودس وکړي، له امله يې په اوبوکې کوم کمي نه راځي ،خوله دې سره سره يې فرمايلي چې په داسي موقع هم له اسراف نه ځان وژغورئ او اضافي اوبه مه تويوئ.

داودس کولو په مهال دعاګاني : د اودس کولو په مهال دعاګاني وکړئ ، په حديث شريف کې راځي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم چې به کله اودس کاوه ، نوپه کثرت سره به يې اشهدان لا اله الاالله واشهدان محمدعبده ورسوله ويله ، او همداراز اللهم اغفرلي ذنبي ووسع لي في داري وبارک لي في رزقي ، او له اودس وروسته به يې دادعا ويله : اللهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين ،

که کوم څوک له دې ادابوسره اودس وکړي نو ددې اودس خاصه بيا داده، چې

دا ډول خيالونه چې زمور په زړه اودماغ کې يې ځای نيولی له هغه به موپاک کړي اودالله تعالى لوري ته به مو دماغ متوجه کوي .

داودس په مهال خبري اتري کول : زمور لويه تيروتنه اوغلطي داودس له پيل څخه شروع کيږي ،کله چې مور داودس کولو لپاره کښينو ،نو ددنيا ټول خرافات داودس کولو په مهال روان وي ، ګپ شپ اوخبري اتري کيږي، چې په داسي حال کې چې په هيڅ هم نه يو،خبر اودس کوو ، بس هسي- ژر ژر خپل فرض ساقط کړو اوځانونه فارغ کړو. چې نتيجه يې داشي چې داوداسه له ټولو فايدو اوثمراتو بې برخي شو ، ددې په ځای که مور په توجه فکر اوادابوسره اودس وکړو اوداودس په مهال دعاګاني ووايو نو دلمانځه لمړی تمهيد اولړی مقدمه به مو سمه کړي وي

دلمانځه دريمه مقدمه داده، چې کله دي اودس وکړ، مسجد ته راغلي ، نو مسجد ته ترجماعت دريدلو لږ وړاندي راشه اودتحية المسجد اوتحية الوضوء په نيت سره دوه رکعته لمونځ اداء کړه ، دادوه رکعته واجب ياسنت مؤکد نه دي، ليکن ډير زيات فضيلت لري ، په حديث شريف کې راغلي چې : يوځل رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت بلال رضى الله تعالى عنه ته وفرمايل : ای بلاله ! کله چې زه معراج ته لاړم

اوهلته الله تعالی په مادجنت سیل وکړ، نو ما ستاسو دپښو داسي غږ(ترپهار) واورید، لکه دکوم بادشاه په وړاندي چې کوم ګارډ روان وي ، دا راته ووایه چې تاسو کوم خاص عمل کوئ چې له امله یې الله تعالی تاسوته دامقام درکړی ؟

چې په جنت کې یې تاسو زما یادیګارډ کړئ ؟

حضرت بلال رضی الله عنه په جواب کې ورته وویل : ای دالله رسوله ! نورکوم عمل مي خو مي نه دی یاد، البته یوه خبره شته، هغه داچې له کله راهیسي زه مسلمان شوی یم، نو له هغه وخت نه مي دا له ځان سره پتییلي، چې کله هم اودس وکړم ،نو دوه رکعته لمونځ به په هغه اوداسه خامخا اداء کوم ، - نوزمادمسلمانی راهیسي زه هروخت له اودس کولو وروسته دوه رکعته تحیة الوضوء خامخا اداء کوم - که دلمانځه وخت وي اوکنه وي ، ددې په اوریدلوسره رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : همدا هغه عمل دی ،چې له امله یې الله تعالی تاسو ته دغه مقام درکړی

تحیة المسجد کوم وخت باید وکړو : په هرحال له هراوداسه وروسته دوه رکعته نفل کولوکې دوه دقیقي لګیږي ، لیکن الله تعالی دهغه له امله دومره زیات فضیلت فرمایي ، اومسجدته له داخلیدلوسره ترکښیناستلو وړاندي دوه رکعته تحیة المسجدکول افضل دي ، البته که دچاهیرشي کښیني اووروسته ورپه یاد شي نو هغه وخت دي یې اداء کړي ، په دې کې هم هیڅ مشکل نشته لیکن افضل اوغوره داده چې ترکښیناستلووړاندي یې اداء کړي ، دادلمانځه دریم تهمید دی

دلمانځه ځلورمه مقدمه وړاندیني سنتونه : دلمانځه ځلورمه مقدمه داده ،چې ترهرفرض لمانځه وړاندي څو رکعتونه سنت مؤکد یاسنت غیرمؤکد راغلي دي ، دمثال په توګه دسهار ترلمانځه وړاندي دوه رکعته ، دماسپښین ترلمانځه وړاندي ځلوررکعتونه سنت مؤکد دي ، اودمازدیګر اوماسخوتن ترلمانځه وړاندي ځلورځلور رکعته سنت غیرمؤکد دي ، دمابنام لمونځ چونکه ژر کول کیږي، نوځکه دمابنام ترلمانځه وړاندي د دوو رکعتونو دومره فضیلت نشته ، لیکن په بعض روایاتو کې دامهال هم دوه رکعته ثابت دي ، نوځکه ترفرض لمانځه وړاندي چې کوم لمونځونه کول کیږي داځلورم تهمید دی

